مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۲/۰۵

# لنډۍ، د ښېتولو ستونزه

## ۳۶۰مه برخه

رنګ دې په نه خبره زېړ شو
هلته به څهکړې چې زه ټوله د بل شمه

میمونه شنه سوه، په خندا سوه
د کاکا زوی دی، ما به نه حلالوینه

د کلي دنګېوني پرې شوې
مرغان په تورورغرو پناه شول، نه راځینه

ښېرا به ولې درته نهکړم
تورهټوپکه، ورانوې ودانکورونه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا نوېلنډۍ راتولې شوې دي:

افغانستان به خدای ابادکړي
د ناصرباغ په کمپ کې مهکره ګلونونه

الله دې تا په چا مئین کړي
چې په تن روغ يې، زړه دې پټ کوي دردونه

افغانستانه خدای دې جوړکړه
چې هرافغان درته په ورینتندي راځینه

اوربل مې ټول پر اوږو خپور دی
واک مې د مور دی چې مې چاله ورکوینه

ترلیوني لالي ځارېږه
تا د تربور خبرې څه لیدلېدینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تېر خو به شي، خو هېر به نهشي
د ببوسی ژوندونه ياد به دې ساتمه

ته مې ارواح، زه دې وجود يم
ارواح چې نهوي، وجود کله ژوند کوينه

په تا به څنکه شپه تيريږي
ما ته د زړه له درد نهراځي خوبونه

پر دوبوال لږه رابنکاره شه
چې دا مئين زړگی مې لږ په کرارشينه

پهٔ لار کې ناسته، ځانته ژاړم
خدايه د لارې مل مې راولې چې ځمه

په زړه مې داسې مار لگيا دی
د خوشحالیغوبنې ترې خوري، د غم پرېبږدينه

په بارانه خوشحاله نه يم
يار مې د ختو کور لري ويجاړ به شينه

پرمخ دې بيا څپېړه راکړه
په سترگو ړوند شي، پېغلې چا وهلېدينه

پرمخ دې زخې راپيداشه
چې د ځوانی غرور دې دړېوړېشينه

پلار خو دې ما وژلی نهدی
چې ما پسې دي د لمدو لبنتوواورونه

په وعده ټينگ اوسه جانانه
د خلکو خولې به تورېخاورې بندوينه

په مرگ به مرو، کفن کې شک دی
قبر نصيب د بختورو خلکو وينه

پته دې نهوه گرانه ياره
ما دې د جنگ کلي کې وکړله پوبنتنه

راځه چې پاس کابل ته لاړ شو
کابل جنت دی، نه روژې شته نه لمنځونه

رنگ دې په نه خبره زېړ شو
هلته به څهکړې چې زه ټوله د بل شمه

زلفې د هرچا پرمخ زانگي
زما د يار پرمخ د سروزرو تارونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

زه به له هېڅچا ګیله نه‌کړم
نصیب مې خپل دی، هرساعت مې ژړوینه

زه دې دیدن باندې عادت کړم
چې ودې نه‌وینم، نری‌تبه مې وینه

زما یې ژوند په غم اخته کړ
هغه د بل په کور کې ګرځي سره‌لاسونه

زنګ راته‌وکړه، حال مې واخله
رنګ مې زېړېږي، د مرګي ورځې مې دینه

زما خیالي اوربل به سپین‌وي
چې مسافر اشنا مې کلي ته راځینه

زړه په توپونو نه نړېږي
ستا په وړو خبرو دړې وړې شینه

زما په یار پسې رنګ زېړ دی
طبیبان هسې خپل دارو خاورې‌کوینه

زما د زړه صبرېدل ګران دي
جانان چې داسې خوی کوی، صبر به شینه

څنګه په یک‌زړه خلک ګرځي
خدای دې قیامت کړي چې خبره خلاصه شینه

خیر مې د ټول کلي راتول کړ
اوس د جانان کوڅه کې دېدلګومه

خلک په کرکو نه‌شرمېږي
زه به د مینې‌کیسې ولې‌پټومه

خاورې به شم، خو دربه نه‌شم
ستا بې‌قدري به مې ترمرګه یادوینه

د لالي شل‌زړه دوښمن دي
سبا به مړ وي، مخ ترې ولې پټومه

د مني خړ سپېرۀ بادونه
په چا لګېږي، چا خوندي کړل صورتونه

د لیوني ارمان پوره‌شو
ترشا یې پرېښول، په چړو وهلي زړونه

د کلي دنګې‌ونې پرې شوې
مرغان په تورو‌غرو پناه شول، نه راځینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**د کلي منځ کې ډزې وشوې**
**په زړهسورى شې، ياره ودکې کړه کوژدنه**

**دا خو انصاف نهدى عالمه**
**مێن پرې زهيم، اوس يې بل ته ورکوينه**

**د توروسترګو اشنا ښهوي**
**څوک چې شينسترګى يار لري، برباد به وينه**

**د تناره لمبو ته پروت واى**
**پر زړه مې نهواى ستا د دووسترګو داغونه**

**د جينکو تعليم پکار دي**
**چې له زلمو سره اوړه په وړه ځينه**

**د غريبى څهزلميتوب وي**
**نه دې ياران وي، نه د ژمي مجلسونه**

**د سترګو تور بهٔ ورته کېږدم**
**کهٔ مرور جانان پرې کېږدي قدمونه**

**برباده شې، اباده مه شې**
**درپسې ومې کړل پر تور څادر نفلونه**

**مينه چې راشي، انسان ړوندشي**
**مێن کورکلى هم پرېږدي، يار سره ځينه**

**ميمونه شنه سوه، په خندا سوه**
**د کاکا زوى دى، ما به نه حلالوينه**

**مور يې شودې لور يې پيروى**
**پيروى خورم د شيدو غوړپ پسېکومه**

**ښبرا به ولې درته نهکړم**
**تورهتوپکه، ورانوې ودانکورونه**

**ستا تر نمجنوسترګو جارشم**
**غم دې پرغرهشه، زه خو تا سپينږيرى کړمه**

**له تا مې ځکه ځان راتول که**
**درته بېقدرهشوم، په ځان وشرمېدمه**

**له ما دې تول خلک خفه شي**
**ته خفه نهشې، زما زړه درپسې چوينه**

**لاسونه کلک رانه چاپېر کړه**
**د وخت سيلى مې درنه ډنډ ته غورځوينه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**غم دې زما شو، ته د بل شوې**
**الله دې مل شه، نور دې نه مجبورومه**

**عذرزارى مې ورته يوسئ**
**جانان که خداى رسول مني، نو رابه‌شينه**

**نن له کابله توتيان راغلل**
**خولو کې يې راوړل د مېنو کاغذونه**

**يار مې بې ننګه سړى نه دى**
**چې مې له سختې نه خبر شي، رابه‌شينه**

**بابا مې نه‌درکوي ياره**
**لاړشه بابا باندې مې وکړه تاويزونه**

**ورکه‌لاليه غږ دې ورکشو**
**غم دې ليوه شو، بند په بند مې ماتوينه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلاى شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ